تاریخ: ۰۹/حوت/۱۴۰۳

دري دېرشم پودکاست

**برېښنا**

جنبش: زموږ یوه بل پودکاست ته ستړي مه شئ، چې د بنسټيزو تاسيساتو په لړ کې نن د برېښنا په بدلوونکي ځواک او د انساني ژوندانه پر ټولو اړخونو د هغې پر ژور اغېز غږېږو او دا ګورو چې زموږ د ژوندانه او کار بڼه او یو له بل سره د وصلېدو او نښلېدو لاره، د برېښنا په راتګ څنګه واوښته؟

این سلسله برنامه ها با اشتراک رئیس جمهور محمد اشرف غنی توسط من داود جنبش اجراء میشود. دوکتور غني هرکلی درته وایم، خپرونې ته ستړي مه شئ.

دوکتور غني : بسم الله الرحمن الرحيم. ډېره مننه له تاسې نه او له ټولو اورېدونکو نه، زما سلامونه او احترامات ټولو وطنوالو ته هر چېرې چې دي.

جنبش: موضوع برېښنا ده خو لږ به شاته لاړ شوو، وبه ګورو چې سلګونه کلونه کېدل چې برېښنا خلکو پېژندله، په يو ډول نه په يو ډول ورسره آشنا وو. کله چې برېښنا د انرژۍ په توګه راغله، کورونه يې روښانه کړل او په ژوند کې يې يو بدلون راوست، دنيا عملاً په دوو برخو وويشل شوه، يوه هغه چې برېښنا يې نه درلوده، يوه دا چې برېښنا لري؛ د دغې نوې دنيا چې برېښنا لري، د دې عمده خصوصيات څه دي؟

دوکتور غني : واقعاً دنيا په دوو برخو کې وېشل شوې، يوه برخه لا هم بې برېښنا ده او د دې لپاره چې دا برخه د برېښنا خاونده شي کم له کمه په کال کې ۳۵ ميليارده تر ۶۰ ميليارده ډالره بايد ولګېږي چې ټول خلک، ببرته پاتې هيوادونو کې د برېښنا څښتن شي. ډېرترينه برخه د برېښنا لومړی له سکرو نه او پس له هغه نه له ګاز نه توليدېږي او دا په چاپېريال باندې بې حده منفي تاثيرات لري. سږ کال مو وليده چې څلور ورځې په متواتره توګه تودښت د هوا بې‌ساري و. او له دې نظر نه له بدې مرغې نه هغه پيش‌بيني ګانې چې کېدې چې د نړۍ هوا به ۱,۵ درجه سانتي ګراد پس له ۲۰۳۰ نه توده شي، [هغه تودېدنه] اوس شوې، اما په اساسي توګه پس له ۱۸۸۰ نه نړۍ په دوو برخو وېشل شوې ده.

جنبش: فکر کوم استاده ستاسې اشاره د اديسن له خوا چې امريکايي پوه و، د برېښنا پېژندنې يا کشف ته ده، چې د نولسمې پېړۍ په همدغه وروستيو دوو لسيزو ۱۸۸۰ نه را په ديخوا په دغه وخت کې وشو او څراغونه يې روښانه کړل. که د امان الله خان د وخت هغه لنډه پټلۍ چې له ارتل پله نه –په تېره يوه خپرونه کې موږ ورته اشاره کړې وه، تر دارالامانه پورې غځېده، دا په پام کې ونه نسيو، تقريباً سل کاله په کار شول چې افغانستان کې بيا د اوسپنې يوه پټلۍ

له شمال نه را اوړده  شي وغځېږي، خو برېښنا ډېره چټکه، همدغسې د برېښنا په چټکۍ افغانستان ته راغله، علتونه يې څه وو؟ او څنګه دا کار ممکن شو؟

دوکتور غني: دليل يې دا دی چې د هغه وخت اميران، هم عبدالرحمن خان په لومړۍ برخه کې، مګر خاصتاً حبيب الله خان غوښتل چې ارګ ته برېښنا راوړي او د هغه په څنګ کې درې مياشتې د کال چې دی به ژمي کې جلال‌اباد ته تّه، هلته برېښنا راوړي، پغمان ته چې د ده د دوبي مرکز و. پېل د دې په اساسي توګه د جبل‌السراج نه وشو لومړی، پس له هغه نه پغمان کې هم دا يوه اندازه برېښنا توليده شوله او ننګرهار کې هم.

جنبش: يعنی کار اساسی در زمان امير حبيب الله خان که از ۱۹۰۱ تا ۱۹۱۹ امير افغانستان بود، در اين وقت صورت گرفت، و اين کار را هم اينها به يک انجنير امريکايی سپردند. بصورت کل انحصار مسايل تخنيکی افغانستان در آن زمان در دست انگليس ها بود، در هر بخش اين ها می آمدند، هم جاسوسی ميکردند هم کار هايی را انجام ميدادند، چرا امير حبيب الله خان ساختن برق را به امريکايی های اعتماد کرد؟

دوکتور غنی: اسناد کافی که ما بتوانيم توضيح بدهيم که دلايل آن چی بود، وجود ندارد. تنها خاطرات انجنير جويت در شکل مکتوب هايی که او به خانواده خود از جبل السراج نوشته و بعداً به شکل کتاب چاپ شده، موجود است. اما اين که به چی شيوه او استخدام شد و تا چی اندازه انگليس ها همکاری کردند، يا بعداً خرابکاری کردند، بصورت دقيق معلوم نيست. اما چيزی را که به يقين گفته ميتوانيم، بدون اجازه انگليس ها او  به تنهايی به افغانستان آمده نمی توانست. در پهلوی جويت در خاطرات جويت موجود است، که چند امريکايی ديگر هم در افغانستان برای خدمت استخدام شده بودند و طرح اول قصر دلکشا را اينها پيش کرده بودند، اما اکثر آنها پول را گرفتند و بعد از آن فرار کردند، جويت بالعکس سال ها در افغانستان ماند و در جبل السراج زندگی ميکرد.

جنبش: در همين بخش انجنير ها و خارجی هايی که به افغانستان آمدند و پول گرفتند و گريختند و فرار کردند، سراج الاخبار از يک انگليس هم نام ميبرد که گويا او بعد از آن که به هند رفته مقالاتی عليه امير حبيب الله خان نوشته و اين مقاله سراج الاخبار در پاسخ به او است و يک مقداری را ذکر ميکند که من فعلاً به خاطر ندارم، ولی ميگويد که يک مقدار زياد بود، پول را گرفت که بايد لين برق بخرد، متاسفانه نه خريد و فرار کرد و رفت. انگليس ها همين کار را ميکردند.

دوکتور غنی: اين صورت موجود بود، اما طرف ديگرش هم اينجاست که آنها شکايت داشتند، که در پرداخت معاشات و تعهدات امير به قول خود وفا نکرده. اسناد کافی که بصورت واضح اين را تثبيت کند، تحقيقات زيادتر کار دارد، ما آن تحقيقات را انجام نه داده ايم. اما از هر دو طرف شکايت ها موجود بود و اين را فراموش نه کنيد که يک آدم مثل جويت واری وقتی که معاش خود را ميگرفت، اين معاش به سکه برايش داده ميشد، و بايد در يک قافله تا پشاور انتقال ميکرد، در پشاور اين تمام سکه ها حساب ميشد، پول کاغذی وجود نداشت و همچنين حواله صادر

نمیشد. یعنی انتقال پول به ذات خود هم یک مسئله اساسی بود. با وجود آن امیر های افغانستان در تمام هند وکلای تجار داشتند، که به نمایندگی از آنها خدمات را هم انجام میدادند و خریداری ها را هم انجام میدادند. هر بار که امیر حبیب الله خان یا امیر عبدالرحمن خان یک متخصص خارجی را استخدام میکرد، اجازه سفر برایش دوباره به ملکش یا ملک دیگر تعلق به امیر داشت، و این بعض وقتها ماه ها میگرفت، اما وقتیکه میرفتند با بودجه کافی سفر میکردند تا بتوانند ضروریات ماشین ها و این ها را بخرند. مشکل در این بود که انتقال از پشاور تا کابل یا تا جبل السراج یک مشکل اساسی بود. و در اینجا یک قصه دلچسپ است که خنده آور است: امیر حبیب الله خان اولین پادشاه افغانستان بود که موتر های لاری را خریداری کرد. اما موتر های لاری را تنها برای انتقال حرم شاهی از کابل به جلال آباد استفاده میکرد. از خاطری که یکی از سردار هایش برایش گفته بود که اگر در این لاری ها ماشین های تولید برق و این ها انتقال داده شود، لاری ها رنگ و این هایش خراب میشود و از خاطر این با وجودیکه لاری ها موجود بود و سرک هم به جبل السراج کشیده شده بود، این باید با فیل انتقال داده میشد. از این جهت کاری که باید به ماه ها صورت میگرفت، سالها دوام کشید.

جنبش: فکر کوم دغه عکسونه د امریکا سفارت، هماغه وخت کې چې د جویت د راتګ، فکر کوم سلم کال پوره شوی و، دوی خپاره کړي وو، جالب عکسونه دي. د انجنیر جویت په...، البته د بند جوړولو او د برېښنا راوستلو کار یې خپل ځای لري، خپل ارزښت لري، خو د ده کتاب هم ډېر ارزښتناک دی. د هغه وخت همدغه خاطرې چې تاسې ورته اشاره وکړه چې د کتاب په بڼه راوتلي دي، اوس غړیز هم دی، پیدا کېږي، ډېرو ډېرو داسې مسئلو ته یې اشاره کړې ده او راوړي یې دي، ثبت کړي یې دی چې په نورو آثارو کې نشته او دا پخپله یو ارزښت دی.

دوکتور غني: خاصتاً بلې، د مثال په توګه د استاد [خلیل الله] خلیلي د کوچنیوالي یو عکس دی چې توره لري، ډېر رسمي لباس ځکه چې د استاد خلیلي پلار [محمد حسین خان] مستوفي الممالک [د مالیې وزیر] و او د برېښنا د پروژې مسئولیت هم د هغه په غاړه کې و. دا هم وایي چې استاد خلیلي ډېرې سختې کنځلې کولې، وایي دا رقم کوچنی ما نه و لیدلی چې دا رقم کنځلې وکړي. نو مختلف ابعاد لري، رشوت نه نیولې چې څوک په دربار کې فاسد دی او خاصتاً د امیر تشریفات، ځکه چې یو وارې [امیر] حبیب الله خان د مستوفي الممالک مېلمه و او له موټر نه چې تېرېده، خټه وه، نو مستوفی الممالک ځان یې واچوه چې د ده په ملا باندې تېر شي، چې د ده بوټ په خټو نه شي. [امیر] ډېر سخت د وهلو لاس درلود او د تشریفاتو ډېر سخت شوقي و. او یو بل انجنیر هم دی تورن ټن (Thornton) هغه لیکلي دي چې خپله کالیزه یې نیولې وه، حبیب الله خان خپله کالیزه په ارګ کې نیولې وه، اول په رسمي لباس کې راغی، او پس له څو ساعتو نه، بیا د انګریزې د شپې لباس یې واغوسته. نو دا برخې ټول د افغانستان د تاریخ لپاره او دا چې څه رقم ژوند و [ارزښت لري] او دا تشریحات چې تورن ټن ورکړي دي، ځکه چې هغه د بوټ جوړولو د فابریکې مسؤل و، مهم په دې دي چې د ارګ روښانول او روښانه ساتل په دې مېلو کې او لویو مجلسو کې ډېر ګران وو، برق چې راغی، برېښنا چې راغله دې ټول شي ته یې تغییر ورکړ.

جنبش: بله پوښتنه دا ده چې ولې جبل السراج انتخاب شو؟ یعنې نغلو او دې ځایونو ته چې ګورې تقریباً فاصله یو شی دی، که لنډه نه وي او پاچا په همدغو لارو باندې ډېر بلد و، اصلي علت څه و چې ده جبل السراج انتخاب کړ؟

دوکتور غني: نغلو هغه وخت کې، هغه وخت وګورئ تنګ غارو لا نه و جوړ شوی، عمده لاره لا هم لته‌بند وه او د لته‌بند لاره بې حده د ستونزو لاره وه، هلته موږ ډېر کافي اسناد لرو له جویت نه نیولې تر تورن ټن او دې پورې چې دې لارې کې څو شپې یې نیولي... ۱۳ شپې یې نیولې چې پېښور ته ورسېږئ. ځکه یو، امیر حبیب الله خان ډېر وخت ښکار ته دلته تّه، نو ځکه د جبل السراج ماڼۍ یې هم چې جوړه کړله دا و. او بل، هغه [سیمه] اوچته ده او بیا هوارې ته راځئ؛ که نغلو نه راځئ باید بېرته له ماهیپر نه اوچت تیر شئ او هغه خپله برق باندې، انتقال د برق باندې تاثیرات لري. پغمان کې هم که وګورئ یوه دره ټاکل شوې ده چې راساً -هلته چې دا ماڼۍ چې ما یې شرف درلوده چې بیرته یې را ژوندۍ کړم، هغوی ته برق رسوي، په ډېرې لږې فاصلې کې.

جنبش: برعلاوه قیمت که شما به آن اشاره داشتید، که گران بود، قیمت بود که ارگ روشن شود در مراسم کلان، یک مسئله دیگری که محمود طرزی به آن اشاره میکند و خوش بود از این که برق به کابل میرسد این بود که، کارخانه های کابل که ماشین خانه بود، و فابریکه های تولید انواع مختلف اسلحه وغیره بود، چوب ضرورت داشت بخاطر اینکه به حرکت بیاید، و محمود طرزی نوشته بود که، این کارخانه ها سبب شده که درخت های اطرف کابل بصورت کل از بین برود، آمدن برق به کابل سبب خواهد شد که این فاجعه یی که در حال تکوین و جریان است قطع شود. فکر میکنید همین تاثیر را واقعاً گذاشت، آمدن برق به کابل یا خیر؟

دوکتور غنی: مطلق، یکی از دلایل عمده ییکه امیر عبدالرحمن چندین جیولوجیست را استخدام کرد، از جهت آن بود که میخواست زغال سنگ قابل استفاده که بصورت آسان انتقال داده شود، پیدا شود، از جهتی که واقعاً جنگلاتی که در اطراف کابل وجود داشت، پیش از ایجاد فابریکه های نظامی که در باغ علم گنج، قبلاً راجع به آن صحبت کرده ایم احداث شد، ضرورت بسیار زیاد داشت و در آن وقت امکان تولید برق از خود دریای کابل در اطراف آن نبود، از خاطری که دریای کابل مقدار آبش در آن ساحه کم است، بنابرین واقعاً این دلیل جدی بود و عبدالرحمن خان، حبیب الله خان و خاصتاً سردار نصرالله خان برادر حبیب الله خان که مسؤل این فابریکه ها بود، سخت در پی آن بودند که یک راه تولید انرژی دوامدار بوجود بیاید تا این فابریکه ها فعالیت خود را دوام داده بتوانند و توسعه داشته باشند.

جنبش: فکر کوم چې امان الله خان د برېښنا په تولید کې دومره مخته نه ولاړ، نورې نښې د کارونو یې پاتې دي، پغمان کې یې یو څه خوځښتونه لیدل کېږي، اما دا چې یوه بشپړه فابریکه د تولید د برق دې وي، په هغه وخت کې جوړه نه شوه.

دوکتور غني: په یقیني توگه زه د دې خوب نشم ورکولای، ځکه چې زموږ داخلي اسناد د امان الله خان په دورې باندې دا نه ښیي چې برېښنا په باره کې يې څه اقدامات کړي وي، مگر د ده مذاکرات له ترکانو سره باید بیا وڅېړل شي، خاصتاً جمال پاشا سره. د ده یوه اوښې ورباندې لیکنې کړي دي او موږ په دې باندې وتوانېدو چې دا خپاره کړو. دا چې کومې طرحې وې، لکه د ریل پټلۍ غوندې چې د خلکو هېرې شوې وې، یا دا چې مطلق نه وو یا په مرحلې ددې کې وو چې دی ورباندې فکر وکړي، نوره څېړنه غواړي. مگر په اساسي توگه ستاسې تبصره پر ځای ده چې موږ آثار يې نه وینو.

جنبش: د کلکاني، حبیب الله کلکاني تر بغاوت وروسته البته خو لنډه موده وه، نهه میاشتې وې بیا نادر خان هم دومره پاچاهي ونه کړه، فکر کوئ نادرخان د برېښنا د تولید کار شروع کړ که له هغه نه وروسته اعلیحضرت ظاهر شاه دا کار وکړ؟

دوکتور غني: په واقعي توگه که وگورئ، نادر خان اساس د یوې همغږۍ له خصوصي سکتور د افغانستان سره کېښود چې د افغانستان د خصوصي اقتصاد او دولتي اقتصاد شراکت يې ایجاد کړ او دا عبدالمجید خان زابلي سره د ده قرارداد و چې ملي بانک ته يې اجازه ورکړله، او ملي بانک و چې وخوځېده، نو اساس د هغه په دوران کې کېښودل شو. حرکت د سردار محمد هاشم خان د صدارت په دوران کې راغی، او بیا لوی خېز د سردار داود خان د صدارت په دوران کې راغی.

جنبش: خوب، به بخش های مشخص این پروژه ها بعداً میاییم، ولی بیاید یک بار مسایل کلی را مورد بحث قرار بدهیم. در همسایه‌گی ما در روسیه، بلشویک ها یک سیاست کلیِ که داشتند، آنر الکتریفیکاڅیا می گفتند به روسی، یعنی برقی سازی تمام اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی به اصطلاح آنها. تاثیر این سیاست که تمام روسیه برقی شود، بر ما چی بود؟ مثبت بود؟ یا مثلاً عواقب ناگواری داشته برای ما؟

دوکتور غنی: نخیر، عواقب ناگوار نداشت. فراموش نکنید که آقای زابلی نماینده تجارتی امیر امان الله خان در مسکو بود و اولین کمکی را که اتحاد شوروی به افغانستان انجام داد، در زمان شخص لنین بود، و پول آن را...، این در دوران سیاستی بود که سیاست نو اقتصادی لنین نامش را گذاشته بودند، که دوباره به سکتور خصوصی اجازه داده بود. طرح ترکیب سیاست سکتور خصوصی و سکتور دولتی را آقای زابلی از شوروی از این وقت و از آلمان، از آلمان قرن نوزده و شروع قرن بیست تعقیب کرد. بنابر این از نگاه تاثیر نقشه راه انکشافی در افغانستان، تاثیرش مستقیم بود. دوم یک قسمت زیاد صادرات افغانستان را آقای زابلی هم به اتحاد شوروی انجام داد. مخصوصاً بین سالهای ۱۹۳۲ و جنگ دوم جهانی، چون در این دوران بود که اساس تولید پنبه در افغانستان، و بعد از آن صنعتی شدن پنبه که فابریکه های نساجی و این ها را در شمال افغانستان، آقای زابلی به اساس همین طرح گذاشت و در بدل این صادرات، ماشین آلات و مواد دیگر ضروری مثل قند واری، یا بوره یا این ها را از اتحاد شوروی بصورت بارتر به وجود آورد. از این

جهت در این وقت مناسبات نزدیک است و اساس گذاشته می شود. اما طرح تاسیسات برقی سرتاسری در شوروی، معلومدار به یک خیزش نه آمد، این سالها گرفت و کشوری که از این زیادترین نتیجه در قسمت اول در آسیای مرکزی گرفت، ازبکستان بود. چون شما به یاد تان است که هدف ستالین این بود که اگر مسکو سقوط کند، پایتخت دوم اتحاد شوروی تاشکند خواهد بود و در آن دوران جنگ دوم، ازبکستان فعلی واقعاً انکشاف صنعتی زیاد کرد، که بعد از این که جنگ جهانی دوم خاتمه پذیرفت، این [روند] دوباره ایستاده شد. تاجکستان کنونی و ترکمنستان کنونی و قزاقستان کنونی بدبختانه مورد توجه خاص نبودند و مخصوصاً قزاقستان تاثیرات منفی نهایت زیاد را از امتحان سلاح هستوی و انفجار های هستوی و اینها دید، که اینها بعد از استقلال نموی خاص کردند. اما میراث عمده ییکه در این جا مانده اینست که تا وقتی که اتحاد شوروی به انحلال رسید، مقدار تولید انرژی قابل ملاحظه به سطح بسیار بالا در قزاقستان، بعد از آن در ازبکستان، بعد از آن در ترکمنستان و بعداً تاجکستان و قرغیزستان رسید و پروژه بسیار بزرگی که اینها در نظر داشتند، راجع به آمو بود، که بند های فعلی را – راغون را که تاجکستان تعقیب کرده، یک ظرفیت بزرگ است، اما بررسی عمومی دریای آمو که از طرف انجنیر های اتحاد شوروی صورت گرفته بود، ده ها هزار میگاوات ظرفیت تولید را در نظر گرفته بودند. اگر این پروژه عملی میشد یک پروژه مشترک بین افغانستان و جمهوریت های آسیایی اتحاد شوروی میبود.

جنبش: وقتی که شما می خواهید به این پیمانه انرژی زیاد برقی را تولید بکنید، به بند های متعدد و مخصوصاً در آسیای میانه ضرورت دارید که این باعث خواهد شد که، آبی را که در دریای آمو حصه ماست آن را بگیرند. پس این مسئله دور دادن آب ما به طرف جمهوری های آسیای میانه به برق ارتباط ندارد، شاید هم به پنبه و توسعه زراعتی که آب زیاد ضرورت داشت، به آن رابطه داشته باشد؟

دوکتور غنی: دو مسئله باید به صورت واضح جناب جنبش صاحب از هم تفکیک شوند. بندها میتوانند تنها بند تولید برق باشند، یا بند هایی باشند که هم برق را هم آب را مدیریت میکنند. چیزیکه بعد از سالهای ۱۹۸۰ از طرف فرانسوی ها کشف شد اینست که امروز برای تولید برق ضرورت به بند های بسیار بزرگ ندارید. ماشین هایی ایجاد شده که در بستر دریا گذاشته میشود و آنرا خود آب، حرکت می دهد و در مابین آب، عوض اینکه بند های بسیار بزرگ باشد. مسئله آب شروع میشود از پروژه بسیار بزرگی که اتحاد شوروی سابق در ترکمنستان ایجاد کرد. تا قرون وسطی، یک شاخه دریای آمو از ترکمنستان تیر میشد و این دفعتاً غیب شد، قرن ها... این کانال بسیار بزرگ را اتحاد شوروی جدا کرد، تا حدی که من معلومات دارم، بدون مشوره با دولت افغانستان. و بعد از آن مسئله بزرگ دیگری که آمد در سال ۱۹۸۸ شوروی سابق یک معاهده تقسیم آب آمو را بین جمهوریت های آسیایی ترتیب داد، و برای افغانستان ذره سهم نه دادند، که این خلاف تمام اصول و قوانین است. چون ما حداقل ۴۰ فیصد آب آمو را ما تولید میکنیم و بعد از آن هم، بعد از استقلال جمهوریت های آسیایی باز هم یک معاهده را انجام دادند و در آن به افغانستان سهم ندادند. از نگاه قانون بین المللی که من تحقیقات واضح در این بخش انجام داده ام، بالا آب از نگاه قانون بین المللی حق دارد

که حقوق خود را محافظه کند. از همین جهت بود که طرح قوش تپه را من تهیه کردم، نقشه کردم بعد از این تنها افتتاحش مانده بود. تمام ابعاد آن را عملی کردیم تا ما بتوانیم به یک نتیجه واضح برسیم. چون بدون اقدامات عملی حقوق ما را کسی مدنظر نمی گرفت. این معلومدار در وقتی بود که افغانستان فاقد یک حکومت قبول شده و متوجه بود، حقوق ما ضایع شده بود و از این جهت مسئله آب آمو ضرورت مذاکرات جدی سرتاسری و همه جانبه را دارد. و نکته بعدی اش را هم معلومدار مد نظر بگیرید، که اتحاد شوروی ازبکستان را مبدل به تولید یک قلم کرد، که آن پنبه بود. و در این تولید پنبه اینها پروژه کلانی که داشتند، که زمین های بائر را که میخواستند، نه محیط زیست را در نظر گرفتند، نه تولید متداوم یا تولید اصولی را و از این جهت دریای ارال خشک شد، نتیجه کار های این هاست. اتحاد شوروی سابق بدبختانه در بخش محیط زیست، چه در آسیای مرکزی بود و چه در سایبریا، فجایعی را انجام داد، چون درک اینها این بود که محیط از طرف انسان به هر طریقی که مدیریت شود، محیط از خود جواب داده نمی تواند. بعد از استقلال، ازبکستان تنوع آورد، و از این جهت شکل آن تغییر کرده؛ ضرورت ترکمنستان هم به آب، که آب مرغاب است، دولت ایران یک بند دوستی را با ترکمنستان ایجاد کرد. اما یکی از معاونین دریای مرغاب که دو کیلو متر بعد از این بند با دریای اصلی هریرود یکجا می شود، این را در این بند نه آوردند و تمام فشار سر افغانستان آمد. حوزه های آبی باید بصورت کل مورد پلان گذاری شود و اگر یک طرف معاونین را بند میکند و بند های یکطرفه میسازد، از نگاه اصول متوازن باید غرامت بدهد، چون سیستم را از بین میبرد و در این بخش ضرورت واضح است که هر دریای ما که دریایی است که سرحد مشترک است، باید بصورت اساسی بی طرفانه تحقیقات شود. حدود واضح است و این را در قسمت هلمند هم می بینید که بدون دلیل ومنطق انتقاد های بی جا صورت میگیرد. در صورت خشکسالی، افغانستان چطور میتواند آبی را فراهم کند که نداشته باشد، و در صورتیکه آب موجود باشد، معاهده بسیار واضح است که افغانستان حق هر نوع استفاده از آبی را که اضافه از حدودی است که معاهده برای ایران در نظر گرفته بود، خارج از آن افغانستان حق ساختن هرنوع بند را دارد. اما آن طرف هم گود[آبگیر] زره و اینها را که ببینید، معاونینی که این گود را تقویه میکردند بصورت اساسی سرشان بند هایی ساخته شد که امروز از نگاه تخنیکی مورد سوال است.

جنبش: د شلمې پېړۍ نیمایي ته چې را ورسېږو یا دا دویمه نیمایي کې افغانستان که ټول نه و، لویو ښارونو یې کافي برق درلود، که ټول ښارونه هم نه وو، کابل دومره برق درلود چې ورځ او شپه کې مثلاً زه چې محصل وم د داود خان په وخت کې موږ پرچوياني، زما نه یادېږي چې هغه وخت کې دې وې، که څه هم کلیو، کلیوالو خلکو، وګړو تر آخره پورې برېښنا ونه لیده او ویې نه پېژانده. ولې په دغه وخت کې ټول پام په ښارونو ټول پاتې شو؟ کلي عملاً له پامه وغورځول شول.

دوکتور غني : لومړی باید په نظر کې ونیسو چې د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې، عبدالمجید خان زابلي اساسات د برق، د برېښنا د تولید په شمال د افغانستان کې، په جنوب د افغانستان کې په هلمند کې، قندهار کې او کابل کې

کېښودل او دویمې مرحلې کې بیا دا د دولت له خوا تر سره ورسېدل. او هلته هم موږ دری شخصیتونو نه باید نوم واخلو، غلام محمد خان فرهاد چې هم لومړی انتخابي ښاروال د کابل و، مگر اصلي تخصص یې برق - برېښنا کې و او بیا د لوی برېښنا د شرکت مشر شو. انجینر حمید حمید او انجینر جمعه محمد محمدي چې د داود خان د جمهوري په دوران کې د اوبو او برېښنا وزیر و؛ دا درې شخصیتونه او نور شخصیتونه چې دوی سره وو او تخنیکي برخه...، یو تخنیکي ظرفیت او پوهه افغانستان کې په منځ راغله چې اساس یې هغه ځوانان وو چې امان الله خان آلمان ته لېږلي وو او ځینې یې امریکې ته او دوی بېرته راغلل او په انجنیري کې یې ستر کارونه وکړل. دویمه برخه کې همدا وه خاصتاً چې کابل کې دا سلسله د بندونو - سروبي، نغلو، ماهیپر او پس له هغه نه درونټه دا ټول هم پلان شول او هم عملي شول. کابل کې دومره برق و چې هغو خلکو ته چې په مزو تړلي وو، برق ورکړي ۲۴ ساعته، پرچوي گانې نه وې. اما کلیو ته او اکثریت د نویو ښارگوټو ته چې په ودې کې وو، برېښنا نه رسېده، دلیل یې مالي و. د هر نوی سټېشن جوړول گران و، نو له هغه نظر نه په حدود د ۲۰۰ میگاواټه له هغه نه چې مصرف کېده، ډېر تر تولیدېده. اما دلیل چې د کلي او د ښار توپیر راغی دا و چې یوازې تولید ته باید ونه گورئ، توزیع ته باید وگورئ او توزیع بې له شبکې نه، او توزیعاتو د سلسلې په غیر دا نه کېږي او دا گران دي، او بلې خوا نه حفظ و مراقبت یې و.

جنبش: وقتیکه برق آمد، همزمان بخش هایی از صنایع هم در افغانستان آهسته آهسته رشد کرد. کدام بخشی از صنایع مستقیماً بالاثر تعمیم انرژی برق رشد کافی داشته و عام شده در افغانستان؟

دوکتور غنی: از نگاه بخش صنعتی، نساجی بود. اگر طرح آقای زابلی و بعد از آن طرح ملک خان عبدالرحیمزی که وزیر مالیه شد و اساس طرح دولتی، اقتصاد دولتی را پیش میبرد تا که اتهام کودتا سرش گذاشته شد و به بندی خانه رفت برای سالهای زیاد، فشار سر نساجی بود تا از واردات برآییم و به طرف تولید برویم. قسمت دومش فابریکه قند بود، تولید بوره بود که یک فابریکه را که از لبلبو است در شمال افغانستان می بینید و فابریکه دوم که از نی‌شکر بود، در جلال‌آباد بود. بخش سوم سر تولید میوه‌جات بود که در قندهار خاصتاً شرکت پشتون که یکی از شرکت هایی بود که موازی به بانک ملی ساخته شده بود و موسی خان یکی از تاجر های بسیار بزرگ قندهار در رأس آن قرار داشت و اتفاقاً نور محمد تره کی که بعداً شهرت کشید و رئیس حزب خلق و مسئول کودتا شد، نماینده شرکت پشتون بود در بمبئي. ابعاد دیگر آن که شروع شد، اما به نتیجه نه رسید، فابریکه چاینک سازی شاکر بود و نظریات دیگری آقای زابلی به تفصیل داشت، که در نسخه خطی آن را که من خوانده ام وجود دارد. اما قسمت عمده صنعتی شدن تعقیب نشد و پشمینه سازی قندهار هم اگر ببینید یکی از فابریکه های بزرگی بود که در این بخش ایجاد شد و مخصوصاً نساجي هلمند. نقاط دیگری که روی کار بود پروژه بسیار بزرگ مسلخ هرات بود. تکمیل این پروژه موجب آن می شد که افغانستان یک صادر کننده عمده گوشت گوسفند به عربستان سعودی و خلیج شود، که متاسفانه آن پروژه به نتیجه نه رسید. ابعاد دیگری که روی کار بود تا یک اندازه پیشرفت، فابریکه های سمنت بود. سمنت غوری، سمنت جبل السراج همه اینها نتیجه این بخش است. اما معلومدار اینها به تکنالوژی خاص آن وقت بودند، نوع تولید آن

[اکنون] تغییر کرده. در قسمت خود تولید برق اگر بیاییم، سه نوع اساساتی که انرژی از چی به وجود آمد، آب را بعد از آن مسئله دیزل و پترول را و خاصتاً مسئله گاز را باید در نظر بگیریم. یکی از مهمترین اقداماتی که در دوران صدارت داود خان انجام گرفت و بعد توسعه کرد فابریکه کود و برق مزارشریف بود. در حدود ۱۰۰ میگاوات زیادتر تولید برق داشت و در قسمت کود کیمیایی یک تغییر بنیادی را ایجاد کرد و یکی از فابریکه هایی که بخش سکتور خصوصی که به نتیجه رسیده و در تولید برق و توزیع برق شمال تاثیر زیاد داشته، گاز است که فعلاً در مزارشریف فعال است.

جنبش: ډېره مننه استاد د دغو فابریکو نومونو، زما يې هم ډېرې خاطرې راپه زړه کړې او ځوانانو ته به مخصوصاً ډېرې جالبې وي چې هیواد په دغه پړاو کې په ځینو اقلامو کې تقریباً په کور پوره و او خارج ته يې هم صادرولې. مثلاً زما په یاد دي چې زموږ په سیمه کې خپله نساجي، خپل ټوکران د کالیو لپاره د کور د نور اړتیاوو لپاره همدا خپل ټوکران استفاده کېدل او ډېر خلکو خوښول، دغه ډول بوره او سمنټ تقریباً په کور دننه تولیدېدل او خلکو استفاده ترې کوله.

دوکتور غني: هو بالکل، او که په یاد مو وي دولتي کوپراتیفونو کې به دا اقلام د دولت مامورینو ته او اردو او پولیسو ته هم ورکول کېدل او د هغه لپاره د ټولو د استفادې وړ وو.

جنبش: موږ دا خپرونه په دوو برخو ویشو چې بندونو او دې باندې به جلا وغږېږو، نو را به شو یوازې د برېښنا د استفادې پړاوونو ته. شلمه پېړۍ باندې وغږېدو، یوویشتمه پېړۍ د شلمې پر خلاف باندې ډېره تورتم شروع شوه ځکه افغانستان په ډېر بد حالت کې و. شلمه پېړۍ د جبل السراج د برېښنا په ځلېدو سره و ځلېده، کابل يې وځلاوه. اما یوویشتمه تورتم وه او هغه ولولې يې نه درلودې، د نهیلیو یوه څپه په هیواد باندې خوره وه. بیا وروسته نړیوالې ټولنې مداخله وکړه او بدلونونه راغلل او ځینې پروژې را پیل شوې، را شروع شوې د برېښنا. په خپله ونده راته که وغږېږئ، په دغه پړاو کې ستاسې ونډه د برېښنا په ډېرولو، تولید او راوستلو کې څه وه؟

دوکتور غني : زما برخه په دوو دورو باندې وېشل کېږي، چې لومړۍ يې د مالیې د وزارت د مسؤلیت په دوران کې وه، چې هغه وخت کې په ۲۰۰۴ کې ما یوه طرحه نړۍ ته وړاندې کړله چې برلین کې یو کنفرانس وشو چې ۸،۲ میلیون ډالرو ژمنه موږ په واضح توگه واخیستله او زما نظر دا و چې لسو کلو کې موږ ته باید ۲۶ میلیارد ډالره د نړۍ له خوا مرسته وشي چې موږ په خپلو پښو ودرېږو او دا ډېر په ربړ وشول، ځکه چې المانیان چې میلمه پال وو غوښتل يې چې یو میلیارد ډالر ژمنه وشي او ویل يې چې ډېره ده، مگر موږ په نتیجې ورسېدو او ډېر دقیق. دې برخې کې واضح په برېښنا باندې او په ټوله زیربنا باندې پلانونه برابر شوي وو او ترتیبات يې په نظر کې نیول شوي وو، ځکه له ښې مرغې نه ما نړیوال بانک کې په برېښنا برخې کې او بندونو کې زیربنا برخې کې هم لومړیو پنځو کلو کې چې آسیا باندې مصروف وم، هم شرقي آسیا او هم جنوبي آسیا کې ما تجربه او یو لید پیدا کړی و. نو هغه لومړۍ برخه وه، چې هغه طرحه وړاندې شوه او امکانات تر لاسه شول. مگر پس له دې نه چې ما ونه منل چې کابینې کې و اوسم، نو د هغه

مسؤلیت نورو ته لاړ او له بدې مرغې نه تقسیم شو. یو لاس چې قوي لاس و چې د مالیې وزارت امور یې په لاس کې نیولي وو او خارجیان یې ټول مجبور کړي وو چې هرو دوو اونیو کې باید د افغانستان دولت ته راپور ورکړي او تعقیب له نظر نه موږ وېشلي وو په ۱۴ برخو کې او هرې برخې کې حدود وو، دا اصول یوې خوا ته پرېښودل شول او پس له هغه نه ستونزه د انسجام راغله چې په دوامداره توګه وه. نو همدا یې اوله برخه وه، هغې برخې کې هم ما غوښتل چې د کابل سیند باندې په واضح توګه که نړۍ مرسته نه کوي، خپله اساسات کېدو او په خپلو پیسو ځینې امکانات مخکې بوځو چې هغه ونه شول. دویم وارې د ولسمشرۍ دوران و، په دې برخې کې لومړۍ خبره دا ده او دا اوس د امریکایي اسنادو نه خاصتاً د نظارت مؤسسه چې سیګار نومېږي، په واضح توګه شوې او د دوی د ګزارش نوم دی (څنګه په قوت باندې او په ټول قدرت باندې یو غلط شی انجام کړئ). د زیربنا برخې کې د امریکا مرسته مطلق ناکامه وه، ځکه بربښنا کې لویې طرحې مطرح شولې پلان باندې چې شمال او جنوب، شرق او غرب څنګه سره وتړل شي، اما اساسات یې تعقیب نه شول ځکه دوی پیسې قراردادیانو ته ورکړلي او قراردادیانو ۸۰ فیصده ددې پیسو د قراردادیانو په جیبونو کې لاړلې، ۲۰ فیصده به یې مصرف شوي وي او له بلې خوا نه فساد بې حد ډېر و. نو زه چې ولسمشر شوم افغانستان په نهو د بربښنا په جزیرو ویشل شوی و. که یوه ملي شبکه ونه لرئ، د بربښنا په برخه کې زښته ډېره سخته ده چې ولس ته قناعت ورکړئ، چې ټولو ته په یوې سترګې کتل کېږي. آخره پورې موږ په دې بریالي شوي وو چې دا دوه جزیرو ته ښکته کړو او یوازې پکتیکا پاتې و چې شبکې باندې وتړل شي. که په یاد مو وي بادغیس ته، خوست ته دا ټول ځایو ته ما وکړی شوو چې د بربښنا مزي ورسوم، نو دا یې یوه برخه ده چې شبکه د برق په اساسي توګه څنګه ترتیب شي. دویم یې د سلما د بند تکمیلول وو، دا ۴۰ کاله پاتې وه او د هرات د خلکو لویه غوښتنه او د افغانستان د خلکو غوښتنه دا وه چې دا بند باید وګوري، مشکلات بې حد ډېر وو. اما دا هم که ستاسې په یاد وي وختې چې سلما بند پرانیستل شو او د هندوستان محترم صدراعظم راغی هرات کې پرانیستلو لپاره یې ټول افغانستان کې جشن و. ستونزه دلته بیا دا وه چې ټول بندونه چې خلکو ویل چې ورته پلانونه موجود دي او دې ته چمتو دي چې مخکې لاړ شوو، له بدې مرغې نه قطعاً اساس یې نه درلود. د مثال په توګه هر ځای یې ویلي و چې ۵۰ متره باید دیوال اوچت وي، هر دیوال یو متر، بعضې اوقات زرها نفره بې ځایه کوي او ترتیبات نه وو نیول شوي. د مثال په توګه د دهلې بند ته چې پیسې په دوامداره توګه موجودې وې، د ټولنیزو مشکلاتو له نظر نه چې خلک بې ځایه کېدل، شاه‌ولي کوټ او دې کې، دا تر سره نه شو. پس له هغه نه هم ګورئ چې نیمروز کې د کمال خان بند تکمیل شو. دغه د ټولو بندونو نقشې موږ له سره وکتلې او په دې باندې چمتو شوي وو چې ۲۶ اساسي بندونه او پس له هغه نه په حدود د ۴۰ نور بندونه چې واړه او منځني برخې کې وو، تکمیل کړو او بله برخه یې هم دا وه چې د ټولو سیندونو امکانات مو له سر نه ولیدل. لوی‌ترین اقدام په آخرو میاشتو کې و چې هغه، آسترلیایي میلیاردر سره چې ډاکټر فاریست نومېږي، موږ هغه سره نتیجې ته ورسیدو چې د افغانستان د اوبو ظرفیت د بربښنا لپاره چې په حدود د یوویشت زره میګاواټه و، د شنې بربښنا او شین صنعت لپاره په واضح مذاکراتو کې وو او آخري مراحلو کې وو چې دلته به څو میلیارده ډالره په دې باندې پانګه اچول کېده او امکانات برابر کېدل. بله برخه د اقداماتو زموږ دا وه چې وارداتي برق ته موږ څنګه انسجام

ورکړو. یعنې تولید یو اساس و او تولید برخې کې اوبو باندې مو په واضح توګه ترکیز درلود. دویمه برخه دا وه چې وارداتي برېښنا او دې کې ترکمنستان سره، ازبکستان سره، تاجکستان سره واضح، مذاکراتو مو تغییر وکړ او هغه لویه پروژه چې د برق د انتقال وه له مرکزي آسیا نه پاکستان ته، دې باندې مو بېرته نظر واچوه او اوله برخه یې چې په افغانستان باندې وه، کار لاندې وه. دا ما پرانیستله په نغلو کې او ټول ابعاد یې برابر دي مګر معلومدار بېرته مشروعیت او همغږي غواړي او له بلې خوا نه د تاپي لویه پروژه وه چې ۲۰۲۱ کال کې به افغانستان نه پېلېدله او ۲۰۲۲ کې به هرات ته رسېدله. دا کم له کمه ۵۰۰ تر ۱۰۰۰ میګاواټه برق به یوازې د هرات په سټېشن کې و، چې هلمند ته رسېدو بیا هم سټېشن و، قندهار ته هم او له هغه نه به پس پاکستان ته او پس له هغه نه هندوستان ته تله. او بله برخه یې دا وه چې زموږ خپل ګاز دی، مخکې مې تاسې ته وویل چې خصوصي سکتور دوه لویې پروژې په شمال د افغانستان کې پانګې اچونې لپاره برابرې کړې چې یوه یې نتیجې ته رسېدلې ده او اوس له ۱۰۰ میګاواټه برق نه ډېرتر برق ولس ته تولیدوي، ځکه هر څومره چې شمال کې موږ خپل تولید ته راشوو په هماغه اندازه وارداتي برق به کابل او مرکزي برخې ته او شرقي و جنوبي ولایاتو ته ورسېږي. بله برخه دا وه چې تحقیقات مو په اساسي توګه پېل کړل، چې پکتیکا کې ګاز شته که نه؟ له بنې مرغې نه یوه زلزله چې وشوله دا یې ثابته کړه چې پکتیکا کې ګاز شته. د پکتیکا ګاز اهمیت یې بې حده ډېر دی ځکه چې له قندهار نه نیولې تر کابل او انشاءالله تعالی په اندازه باندې لویې پکتیا او لوی ننګرهار ته به دا زمینه د برېښنا د تولید پیدا کړي. کونړ سیند باندې هم کم له کمه دوه بندونه نظر کې دي چې باید ابعاد یې تکمیل شي او هلته تر حدود د ۳۰۰۰ میګاواټه ده. کابل سیند باندې زما طرحه دا وه چې ۷ تر ۱۰ بنده پورې دې په یوه شبکه د بندونو باید پلان او آماده کړو، دلته یوه خبره ډېره لازمي ده جناب جنبش صاحب چې وختې چې د [برېښنا] په تولید باندې غږېږئ، لوی‌ترینه ستونزه توربینو کې ده، ځکه توربین په فرمایش نشئ جوړولی او که شبکه ونیسئ، د دې امکان برابروي چې قیمت یې یو واري تاسې درخواست وکړئ او قرارداد وکړئ یوې فابریکې سره او دې برخې کې جنرال الکتریک د امریکې سره موږ غوښتل وغږېږو چې دوامدار ماشینونه وي. یا آلمان سره چې په یو واري باندې [راشي] او که هغه رقم لاړ شئ، قیمت د توربینو په نیم رسېږي. بله برخه یې د لمر برېښنا ده او د باد برېښنا ده او ددې لپاره ما [د آلمان] صدراعظمې مرکلې نه درخواست وکړ چې زیمینس استخدام کړي د آلمان دولت له خوا چې زموږ د برېښنا شرکت او د انرژۍ وزارت سره او ایرانیانو سره په ګډه کار وکړو چې تولید د برق راشي. لمریزه برېښنا کې له بنې مرغې نه تخمین په حدود د ۲۰ زره میګاواټو کې دی او ترکیز له نظر نه هم په ولایاتو کې او یا زونونو په حیث باندې داسې وېشل شوی چې رسېږئ. بدخشان کې هم یوه پروژه وه چې ۵ میګاواټه وه چې زښت ډېر وخت یې ونیوه چې تکمیلي خوا ته او حتی نورستان کې هم نیم میګاواټه برق برابر شو او د هغه په څنګ کې په سلهاوو وړې پروژې وې چې د کلیو د پراختیا د وزارت په چوکاټ کې وشولې چې ولس خپله له لمریزې برېښنا نه او له اوبو نه یې کوچني بندونه او دا جوړول چې برېښنا ته ورسېږو. نو یو حرکت و چې باید بیا له سره تازه شي او د انجنیري په معاصرو اقداماتو باندې او د چاپېریال په نظر نیولو کې. خلص د کلام دا دی چې افغانستان د دې ظرفیت لري، چې د منطقې د انرژۍ په بازار کې یو ستر رول ولري، یو لوبغاړی وي، نه دا چې یو وارداتي مملکت وي او د

وارداتو له نظر نه هم، زما طرحه دا وه چې موږ باید یو ترانزیتي هیواد د انرژي او خاصتاً د برېښنا د انتقال باندې بدل شوو، ځکه چې پاکستان ډېر سخت ضرورت لري او له داخلي نظر نه هغو لویو بندونو د برق ډېره وده نه ده کړې، ځکه برق د اساسي قانون د پاکستان پر اساس باندې، د ولایتونو مسؤلیت دی، او ډېره برخه د انرژي خیبر پښتونخوا کې پرته ده. همدغه رقم ډېره برخه د ګاز چې بلوچستان کې پروت دی. په دې اساس باندې زه د انرژۍ یو لوی مارکیټ ګورم چې هغې کې هم د ترانزیتي هیواد په حیث باندې او هم د تولید کوونکي هیواد باندې موږ خپل رول ادا کولای شوو. اما له ټولو نه مهمتره دا ده چې بېرته صنعتي کېدو خوا ته او خاصتاً، شین صنعت باندې ګرځو ځکه چې دا لوی اپارتمنتونه او دا چې جوړ شوي دي، تاسې ولیده چې د کابل هوا یې داسې تیاره کړې وه چې په شپږو بجو کې خلکو یو شی نه لیده او دلیل یې دا و، پوهېږئ څه یې کول؟ د موټر ټایرونه یې استعمالول د تسخین لپاره، حمامونو کې هم همدغه کار روان و. د ۲۰۴۷ ستر هدف لپاره دا کېدای شي چې افغانستان واقعاً په خپلو پښو ودرېږي او دا ضرورت د دې لري چې هم نړیوال خصوصي سکتور سره، هم منطقې سره او هم بین المللي او منطقوي بنسټونو سره واضح د راشې درشې امکانات ولري او دا باورمندي منځته راوړي چې لویې پروژې ترسره رسولای شي. هر لوی بند کم له کمه ۷ کاله غواړي. نو دلته چې تداوم نه وي او هر څوک چې ځي یوازې په دې چورت کې وي چې ٦ میاشتې فکر وکړي د دې پر ځای چې ٦٠ کاله فکر وکړي. ضرورت د دې دی چې یو ملک لکه مالیزیا غوندې چې په دوامداره توګه په زیربنا باندې یا چین غوندې اخته دي او تداوم لري په دې کې، بې له تداوم نه او بې له دې نه چې بشري پانګې باندې پانګه واچول شي او بشري پانګه په دې حد ورسېږي نه چې یوازې یو شی تولیدوئ، بلکې په ارزانترین قیمت باندې یې او په بهترین کیفیت باندې یې باید تولید کړئ، دا اهداف دي.

جنبش: ځیني دې اړخونو باندې بله خپرونه کې په تفصیل سره غږېږو، پوښتنې لرم.

در دوران بیست سال جمهوریت البته در آغاز ضرورت بود چون شبکه ها هم از بین رفته بود که انرژی برق از کشور های همسایه وارد شود، ولی در اوآخر مردم می پرسیدند مصرفی که بر واردات انرژی صورت میگیرد،میتوانست بر تولید داخلی صورت بگیرد و افغانستان برای مدت طولانی تر خودکفا شود. چرا این کار صورت نه گرفت؟ تا آخر افغانستان همچنان انرژی وارد می‌کرد از کشور های همسایه.

دوکتورغنی: دو نکته قابل ذکر است: نکته اول اینست که تقاضا به انرژی به اندازه ای زیاد بود که امکان آن نه بود که با تولید داخلی این فراهم شود. نکته دوم، قبلاً هم برای تان ذکر کردم، تولید انرژی کم از کم هر پروژه بزرگش در حدود ۵ تا ۷ سال میگیرد. مردم از ما معجزه میخواستند، و در عین حال موانع اساسی را خاصتاً نقش منفی پارلمان را،

نقش جنگ‌سالارها را و نقش فسادی را که میراث گرفته بودیم در نظر نمی گیرند. در ممالک دیگر اگر یک پروژه بزرگ انتقال ۵۰۰ ولته از یک ولایت، از یک قریه تیر شود مردم احتجاج میکنند که این ها صحت ما را در خطر می اندازد و در افغانستان بنام جنبش روشنایی رفتند به طرف یک جنبش تاریکی. ماجراجویی هایی را که در این بخش وجود داشت، باید در نظر بگیرید که از یک طرف در شرایط سخت جنگ و حملات دوامدار سر زیربنا، وقتیکه من رئیس جمهور شدم سه ماه زیادتر در خزانه برای معاش امکانات وجود نه داشت و وقتی که وابسته باشید به کشور های بیرونی، پس باید ابعاد این را مدنظر بگیرید، که تاثیرات این چی است و قناعت دادن، پول پیدا کردن و باز وقتیکه شرکت ملی را ایجاد کردیم و سرعت حرکت را بوجود آوردیم، زیادترین مخالفت از کجا شد؟ از اعضای پارلمان و مطلق راه آنرا در بودجه گرفتند. مردم ما حق بجا دارند، اما قسمیکه برای تان پیشتر گفتم، ما توانیستیم قیمت برق وارداتی را بصورت اساسی پایین بیاوریم، در مذاکرات خود، اما اگر میخواستیم صنعت را انکشاف بدهیم، کدام بخش صنعت ماست که ضرورت به برق قابل اطمینان نداشت؟ نکته دیگر اینست اگر افغانستان به یک کشور ترانزیتی برق، از آسیای مرکزی به آسیایی جنوبی مبدل شود، حداقل ۸۰ تا ۹۰ فیصد مصرفی را که برای واردات میدهند، تنها از پولی که از جهت ترانزیت میگیر ند، تهیه کرده میتوانند و از این جهت روز به روز در یک موقیعتی قرار میگیرد که این قیمت را پایین بیاورد. قراردادهاییکه صورت گرفته بود متاسفانه با قیمت بسیار بلند صورت گرفته بود، ما توانستیم این را پایین بیاوریم و وقتیکه یک میراث قبلی را داشته باشید و آن میراث مشکل باشد و ۹ جزیره باشد، و یک بند تکمیل شده نباشد و تمام طرح ها سر هوا باشد و قرارداد ها به شرکت های ممالک همجوار بصورتی اعطا شده که قطعاً مابینش شفافیت وجود نه دارد، پاک کردن آن به مراتب مشکل تر است تا اینکه از ساحه سبز شروع میکنید و از ابتدا شروع میکنید.

جنبش: ما مخکې وویل چې برېښنا کې هم ډېرې خبرې دي، خپرونه به بله هم پرې ولرو، اوس که د برېښنا د راتګ دغه څه باندې سلو کالو ته وګورو، تاسې ځينو شخصيتونو ته، ځينو دورو ته، ځينو چارواکو ته اشارې وکړې چې کارونه يې کړي وو، که داسې عمومي ورته وګورو کوم درسونه له دغه څه باندې سل کلن برېښنايي پړاو نه اخيستلی شوو په مثبته برخه کې، کوم شيان مثلاً داسې وو چې که هغه نه وای شوي افغانستان به اوس بل ډول وای چې هغه يو درس شي دې راتلونکو نسلونو ته؟

دوکتورغني: لومړی خبره دا ده چې وختې چې خصوصي سکتور وایو، په افغانستان کې، اوسني افغانستان کې د جمهوريت په دوران په افغانستان کې په هغه رقم خصوصي سکتور موجود نه و، دا تاجران وو. هغه برخه چې صنعتي پانګه يې اچولې ده يا په کرنې کې پانګه اچوله، دا پانګوال باید ورته ووايو. زابلي صاحب يو ملي پانګوال و، د ده طرحې په اقتصاد باندې استوارې وې او که دا تعقیب شوې وای افغانستان به لکه جنوبي کوريا غوندې و. ۳۰ کاله مخکې له دې نه چې جنوبي کوريا يا پاکستان د ايوب خان په دوران کې دا طرحې عملي کړي، زابلي صاحب او نادر خان دې نتيجې ته رسېدلي وو. خصوصي سکتور او دولت که په يو خط کې نه وي، وده ډېره سخته ده، دا يې لومړی

خبره ده. دویم باندنی مرستې چې راځي که دولت کې ظرفیت د مدیریت ددې نه وي، دا نتیجه نه ورکوي، د مثال په توګه زموږ ګاز تولید شو، شمال د افغانستان کې به تاسې پخپلو سترګو لیدلي وي صادرات کېدل. موږ به تاجکستان - اوسني تاجکستان ته ګاز ورکاوه. اما کیلي یې د روسانو په لاس کې وه. او پس له هغه نه چې امریکاییان راغلل، په خپلو مرستو سره دا مرستې مطلق شفافې نه وې، ربنې نه وې، ۸۰ فیصده یې بېرته امریکې ته تللې دي. نو دغلته ضرورت د دې دی چې باید ظرفیت ولرو. درېیم، زیربنا پروژې په پروژو نه کېږي، زیربنا که برېښنا وي، که سړکونه وي، که د ریل پټلۍ وي پروګرامونه غواړي، په منظمه توګه. بله برخه یې دا ده چې باید تخنیکي له نظر نه وګورئ چې د خلکو تقاضا او امکانات باید یو مدیریت ته راشي. حالت دې ته رسېدلی و چې هر ولایت د افغانستان ته چې تلئ درته یې وړاندیز کاوه چې ۳۰ یا ۴۰ میلیارده ډالره په دې ولایت باندې مصرف کړئ، په لحاظ د خدای له کومه کېږي؟ بله برخه یې چې له ټولو نه اساسي ده، دا ده: عواید د دولت باید تولید له خوا نه راشي، که خپل عواید ولرئ په هماغه اندازه باندې استقلال د عمل لرئ. بله برخه ددې ده چې بې له منطقوي همغږۍ نه افغانستان له انزوا نه نشي وتلی. هغه دوره چې یوازې په یو ملک کې مو وده راوستله، دا امکان نه لري. بله برخه یې دا ده چې د افغانستان معادن باید د یوویشتمې پېړۍ په چوکاټ کې مدیریت شي او دا ټول امکانات شته، خاصتاً لنډمهال، منځمهال او اوږدمهال باید سره وتړل شي چې هم خلکو ته وضاحت راشي او هم معیارونه واضح وي. یوې ورځ کې خو ټول کارونه نشئ کولای، ترتیب د دې څه دی؟ او دلته باید عامه پوهه واضح وي چې څومره موده نیسي چې د یوې طرحې نه عمل ته لاړ شئ؟ دې برخې کې لومړی یوه مفکوره ده، بیا دا تحقیقات دي، بیا دا بدل کېږي په یوې عمومي مهندسي طرحې باندې، بیا په تفصیلي انجینري طرحې باندې، بیا په عمل باندې او دا ټول مدیریت غواړي. او آخري برخه هم په دې کې ده دا بې د دولتي شرکتو او د وړو او منځنیو خصوصي شرکتو نه بېل نشئ کولای. دا چې راشئ او ووایئ دا ټول خصوصي سکتور ته وسپاره، ومو لیدل چې څه وشول؟ کوم چاراواکی و چې څو شرکتونه یې نه درلودل؟ په پټه یا په ښکاره او غړي د پارلمان او نور، یا د ولایتي شوراګانو. زموږ بدبختي دا ده چې هغه اوقاتو کې چې مطلق امنیت او نظم مو درلوده، اقتصادي امکانات مو نه درلودل، یا د ځانځاني اقداماتو او خصوصي سلیقو له لاسه. زابلي صاحب مو چې له افغانستان نه وویست قیمت یې تر اوسه ورکوو؛ داود خان مو چې ړنګ کړ، تر اوسه یې قیمت ورکوو. دغلته ضرورت د تداوم د یو نظام دی چې یو نظام په اساسي توګه راشي، چې ولسي مشروعیت هم ولري، اما په عین حال کې مشروعیت دا نه دی چې په یو واري راشي. خلک او ولس باید پکې شامل شي او ولس سره ګډون په کار دی. زه سخت د دې پلوی یم چې په انکشاف برخې کې مو کال کې یو وارې یوه لویه جرګه ونیول شي چې د امکاناتو له نظر نه ټول ولس په واضح او روښانه توګه وګوري چې زموږ امکانات څه دي؟ ولې کار کوو؟ ښه خبره دا ده چې د افغانستان بېرته پاتې ولایتونه ډېر بډایه دي څکه چې معادن او دا پکې دي او د اوبو او دا امکانات. نو ملي وحدت ته واقعاً افغانستان جوړ شوی، اما ملي وحدت باید په نظر کې ډېر ټینګ ونیسئ چې موږ ورنه درستې تجربې راوړو.

جنبش: ډېره مننه دوکتور محمد اشرف غني چې د برېښنا د راتګ په عمومیاتو راسره دې خپرونې کې وغږېدئ، د همدې برخې بل مهم اړخ د برېښنا تولید دی، انتقال یې دی او بیا یې وېشل دي چې تاسې وویل یوه ملي شبکه په

افغانستان کې له بده مرغه تر پایه جوړه نشوه، که څه هم له ۹ جزیرو نه ۲ ته تاسې وویل چې راټیټه شوه. انشاءالله بله گڼه کې به همدغه اړخونه سره وڅیړو، تر هغو تاسې او اورېدونکي په لوی خدای سپارم، تر بیا.

دوکتور غني: ډېره مننه، له تاسې نه او ټولو اورېدونکو نه او وطنوالو نه، زما تاوده سلامات او احترامات ومنئ.

زنده باد افغانستان، یشه سین افغانستان، تل دې وي افغانستان.